(c) ketabton.com: The Digital Library



# کار او لار

که د کار په خوند خبر شي
و به نه گرځي بې کار څوک

ـې کاري لويه بلا ده　　پرې دې نه شي گرفتار څوک
ـم صحت دی هم دولت دی　　که روان شي په دې لار څوک
ـلم هم له عمل زده شي　　که پرې وکا اعتبار څوک
کار توليد او فايده ده　　چې څه زيات کاندې په زيار څوک
بنه سړی اوبنه مېړه شي　　چې اخته وي په روزگار څوک
له بې کاره خدای بېزاره　　شيطان نه پرېږدي اوزگار څوک
څوک چې مشق او عمل نه کا　　شي به څنگه او ستاکار څوک
فائده من بنه شهرت مومي　　که خواهان وي د اتبار څوک
کار د کور څښتن جوړېږي　　که خبر وي او هوښيار څوک
هوښيار هغه ده چې کار کا　　هوښيار نه گڼي بې کار څوک
هيڅ له غمه به خلاص نه شي　　که له کاره کوي ډار څوک
ـعلم څه؟ د کار ښودل دي　　چې دی روږدی کا په کار څوک
ـه بسن تشې مسلې کا　　و به نه ساتي وقار څوک
دې بېيل کاندي له علمه　　که راغواړي استعمار څوک
ـه کاري سړی واکدار کا　　چې د ملک غواړي اختيار څوک
کار فرما که کاري نه وي　　ترې نه څه کا انتظار څوک
چې ستومانه سترې نه شي　　رزق څه له خوري مردار څوک
کار او زيار ډېر بنه شاهد دی　　بل شاهد نه شته د کار څوک
د توت پاڼه دا نامه ده　　چې يې اخلي بې له زيار څوک
مکتب نه دی گمراهي ده　　چې روزي په کې کار دار څوک
چې يې لاس تنهاکې نه وي　　خواهش څنگه کا د کار څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــوه ســـــپینه مـــــنظره ده    کـــه اســمان دي او کـــه مځکــه
چیــرته ځــای د ناســتی نشــته    مـــرغی نـــه الـــوزي ځکـــه

ســــــــپنې واورې دې وریـــــږي

زړه لــــه یخــــه مــــې ریـــږي

قرمـــري کـــړه ســــپینو واورو    د خـــو بـــانو ســـپین مخونــــه
یـــو پـــه ســـله اثـــري شـــوو    نـــــن د بنکـــــلو نظـــــرونه

ســــــــپنې واورې دي وریـــــږي

زړه لــــه یخــــه مــــې ریـــږي

نقـــــر یـــــي وطـــــن د اوړي    پـــه غـــنمو طــــلا کـــار شـــي
خـــو لــــه دې ســپینو او ســـرونه    تـــور ســـکاره زمـــا پکـــار شـــي

ســــــــپیني واورې دي وریـــــږي

زړه لــــه یخــــه مــــې ریــیـږي

هـــاى غـــریب یمـــه بـــې وزلی    پـــلار مـــې نشـــته دي یـــتیم یـــم
اوړی ژمی پـــه عـــذاب کـــې    د ســـعیراو د حجیـــم یـــم

کونـــــډه مــــور مـــــې راتـــــه ژاړي

خویـــــندي ورونـــــه مـــــې رانغـــــاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینـــي خلـــك بنه کــړه دغـــه نـــوردې پـــه عـــذاب وي
پرېږده چې خراب وي
هغه بيا د دوی په خولـه کښې ورکړه چې راحت نـه شـي
لوڅ دا حقيقت نه شي
لـــوی فســـاد دې فکـــر دی؟ پښتـــوه‌پښتونســـتان دی
دا کار هم اسان دی
نوم خو يې بدنـه دی خو چې جوړ ملي وحدت نـه شـي
لوڅ دا حقيقت نه شي
گوره تربيـــه ددغـــو خلکـــو افغـــاني نـــه شـــي
جوړه شيطاني نه شي
نـــور څه ورتـــه ښيـــه خـــو دا کـــار درنـــه غلـــط نـــه شـــي
لوڅ دا حقيقت نه شي
واوره اداري دپـــــاره تـــــل تکـــــړه ســـــړي گوره
چاغ لکه غويي گوره
هـر څه دې کـوي چــې را پيـدا چـرې نــهضت نـه شـي
لوڅ دا حقيقت نه شي
هـــو افغـــان دې نـــه وي مـــهاجر کـــه بـــې نســـب وي
خو پوه دی په مطلب وي
خير دی کـه پښتـو وايـې چـې تينـگك پـه مليـت نـه شـي
لوڅ دا حقيقت نه شي
لـــوڅه دښمنـــي هـــم د پښتـــو او افغـــان مـــه کـــوئ
سپکه د ځان مه کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځوانان راټولوم

خرابــــې میخـــــانې لـــــره مســــتان راټولـــــوم
د مینــــــې کاروبارتــــــه عاشـــــقان راټولــــوم
حجـــرې د پښتنـــو شـــوې ګډې وډې پښتونخـــوا کـــښې
کـــوڅه پـــه کـــوڅه ګرځمـــه ځوانـــان راټولـــوم
تـــاخچې نـــه رالوېدلـــې پـــانې پـــانې پـــه محـــراب کـــښې
د زړه پـــــه شـــــواخون ســـــره قـــــرآن راټولـــــوم
پښتـــو مســـلماني لـــه منـــځه تللـــې پښتنـــو نـــه!
ځولـــــــۍ ورم هدیرولـــــــه شـــــــهیدان راټولـــــوم
غـوري پـه لـوړو غـرو کـښې لـودي ګورمـه ملتـان کـښې
عســـکر پـــه بنګالـــه کـــښې د شـــیرخان راټولـــوم
پـــرې ایـــښې شـــعر بیـــا شـــوندوته راغللـــو خادمـــه
ورځم مشـــــاعرې تـــــه رفیقـــــان راټولـــــوم

کابل میزان ۱۳۳۳

* * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۲)

چې راتلو به د تـوپـونـو دزهـــار کېښي
نن را دورمي په رباب او په سيتار كېښي

استعمار بنه بدلـه كـړه هـر ګوره — فرق يې راغى پـه حمله او پـه ګوزار كېښي
دام بـدل شـو دانـه هـم شـولـه بـدلـه — فرق مشكل شو په اختيار او په اجبار كېښي
هاى توبه توبه د دې عـصـر لـه علمـه — لاهغـه چې وي پـه لاس دا ستعمار كېښي
يـا ګير كيـږي يو ملت پـه سرور و كېښي — يا ګير كيږي د تـاجر پـه استثمار كېښي
يا يې ځوان ورتـه ګمراه كړه نـو كـار كيږي — يا يې نور داره مـار كېښنوه په لاز كـېښي
د يـوه سـاعت مـزل ورتـه د شپو كـړه — چې شـي ورك لاره ونه مومي پـه ښار كې
كـه په ګېډه دې كړ وړى يـا عيـاش شـو — بيا شرف ورځـي واخـله پـه بـازار كـېښي
ديموكرات يې كړه چې تل خوشې قصې كـا — په شورى او پـه اعيـان او پـه اخبـار كـېښي
يا يې سپى كړه يا يې بند د خـره پـه دُم كـړه — نوېـې پـسرېږده بيـا دې ګرځي پـه هرښار كـېښي
دا خو شعر نـه دى خادمـه چې يې تـه ښكې — بـل جـهان دى سـتا د فـكر ابتكـار كـېښي

نن په هسې دسېسو كېښي افغان ګير دى
خو لاهم نـه دى د ځان وحال تـه خير دى

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۱۲)

ای ددې نړۍ انسانه   که رښتیا ازادي غواړې
ښه ژوندون دې مدعا وي   د آدم ابادي غواړې
افغان مه پرېږده چې مړ شي   دا یو قام دی په دنیا کښې
مخالف د استعمار دی   مخالف د استثمار دی
د مېړانې ژوندیې خوښ دی   غلامی ځنې بې زار دی
دی مئین په سرېتوب دی   سرېتوب دده مذهب دی
ښه سړی دی ښه ملګری   همدغه دده مطلب دی
خوخلاصون یې اسان نه دی   دښره لویه معما ده
راګیر کړی استعمار دی   پترې راغلي ابتلا ده
یو وجود توټه توټه شو   بیا هر یو په ځان اخته شو
په مذهب یې غولوي تل   په شان شان یې ځوروي تل
له خپل ځانه بېګانه شو   په عالم کې افسانه شو
د آسمان و لورتیه کتوري   تل دغه یوه وینا کا
دا جهان د استعمار دی؟   که ستا هم پکښې اختیار دی

ای ددې جهان څاونده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲۰۶

کورد که بلوڅان که داردیان دي ځوک — څانګې دي شجر دی افغاني وطن
ګوريځ هزاره څان ته غوري وايي — خلاص د بل له شر دی افغاني وطن
پارت، یوچي تخارتول سره ورنه دي — ستوري دي قمر دی افغاني وطن
پښت د تولو سته نورې څانګې دي — ځومره مستقر دی افغاني وطن
سیند د اباسیند یې بېلوی نه شي — پروت تري لرو بر دی افغاني وطن
ډېرې پلمې جوړې شوې جوړېږي لا — تولو لره سپر دی افغاني وطن
قام وطن دې وپېژني ځوانه ته — مور دې ده پدر دی افغاني وطن
فکر د تحریر او د تقریر سره — وروزه مضطر دی افغاني وطن
ټول جهان آزاد شولو اباد شولو — نن ولې ابتر دی افغاني وطن

ځئ چې ځپل حساب له سره ونیسو
فکر او عمل دواړه غوره ونیسو

* * * * *

۱۵ د قوس ۱۳۵۳

